# The Study of Realism in "Khubuna" of Zaitoon Bano's

# د حقیقت نګارۍ د تحریک په تناظر کښې د زېتون بانو د افسانوي مجموعې خوبونه مطالعه

Rizwana*
Farkhanda Hayat**

## ABSTRACT:

Realism, as a prominent and enduring literary movement, has left a profound impact on global literature through its commitment to depicting life with authenticity and unembellished truth. This movement spans a wide spectrum of genres, encompassing poetry, fiction, drama, and narrative prose, where writers strive to portray society, characters and human experiences as they genuinely are free from idealization or romantic distortion. In the domain of Pashto literature, both prose and poetry have increasingly embraced realism as a serious mode of expression. Particularly in modern literary developments, realism has gained considerable prominence, with numerous accomplished writers contributing meaningfully to its growth. These contributions have elevated realism to a central position in contemporary Pashto literary discourse, offering insightful critiques of social structures, cultural norms, and individual struggles.

Among the most prominent figures associated with realism in Pashto fiction is Zaitoon Bano. She has played a pivotal role in shaping the Pashto short story, skillfully weaving multiple themes into her narratives while presenting a compelling portrayal of social realities. Her works stand as exemplary models of literary realism, reflecting the lived experiences, challenges, and nuances of the society she depicts. Through her keen observation and narrative depth, Zaitoon Bano has significantly enriched the tradition of realism in Pashto literature.

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Associate Professor Pashto Academy University of Peshawar

ادب چي د ژوند ترجمان ورته وئیلی شي هغه که نظم وي او که نثر خو د ژوند تصویر په کښې وړاندې کېږي او تر دې دمه چي ادب رارسېدلی دی نو د ژوند د هر اړخ تجزیه په کښې شوې ده. ولې دا داسې هم نهٔ ده بلکې د ادب دې ځای ته په رارسولو کښې ډېر فکري تحریکونه او رجحانات مخې ته راغلي دي. "په ابتدا کښې چي څنګه د کلاسیک په ضد انساني فکر په ډډه واوړېدو او د انقلابِ فرانس"(۱). په ضد رومانوي تحریک رامخې ته شو او دغې تحریک د عقل په ځای د تخیلاتي فکر لار اونیوله نو ورسره یو بل تحریک د ریالیزم په نوم هم رامخې ته شو چي مونږ دې په ادب کښې د تخیلاتو په ځای د عقل په بنیاد حقائق هم بیان کړو. دغه تحریک د فرانس نه راپورته شو او د نړۍ په ادبیاتو کښې خور شو. په اردو او پښتو کښې دغه تحریک د حقیقت نګارۍ په نوم مشهور شو. د ادب په مېدان کښې لیکوالو د حقیقت نګارۍ یا ریالیزم ډېر واضحه تعریفونه کړي دي لکه انسائیکلوپیډیا بریټانیکا د حقیقت نګارۍ تعریف داسې کوي:

> "Realism, in its most general philosophical interpretation, holds that the things we know or understand exist outside of and apart from our thoughts or perceptions of them. While this belief in an external reality might seem self-evident to those unfamiliar with philosophy, thinkers in the field know that idealist arguments have raised serious doubts about whether objects truly exist independently of the mind.".(۲)

حقیقت نګاري یو داسې رجحان وو چي یوائې په پښتو ادب ئې ځانګې نهٔ دي خورې بلکې د نړۍ په ټولو ادبیاتو ئې ژور او پاخهٔ اثرات پراتهٔ دي او د نړۍ په هره ژبه کښې ئې وضاحتونه شوي دي. د انګرېزۍ ژبې ډیوډ لاج د حقیقت نګارۍ په حقله داسې لیکي:

> Realism should not be seen as a single, concrete concept that can be precisely defined or owned. Rather, it reflects a set of approaches, viewpoints, and techniques that people use to interpret and represent reality. These interpretations have naturally changed and developed over time through everyday

human experience and interaction"(۳).

د حقیقت نګارۍ د وضاحت په حقله ښاغلی ګل رحمان رحماني صېب داسې لیکي:

"ریالیزم د Realize لاطیني کلمې څخه اخیستل شوی دی چې د "واقعي" مانا لري. یعنې هر هغه څۀ چې په متعلقو واقعي شیانو باندې زمونږ له ذهنه تکیه کوي، حقیقت دی"(۴).

د نړۍ په مخ موجود یو تخلیق هم د حقیقت نه سترګې نۀ شي پټولی ځکه چې هر وجود پخپله د حقیقت نوم دی او د خپل وجود د تخلیق نه انکار کول د حقیقت برخلاف سوچ دی حقیقت پسند تحریک د نړۍ په ادبیاتو هم ډېر ژور اثر کړی دی لکه د اردو ژبې ستر لیکوال ښاغلی ابوالاعجاز حفیظ صدیقي په ادب د حقیقت نګارۍ د اثر وضاحت په دې الفاظو کښې کوي:

"حقیقت پسند ادب کا رجحان تصوراتی فکر سے زیادہ زندگی کی اصل واقعات کی طرف ہوتا ہے یہ تحریک گزرے ہوئے دور کی بجائے آج کی سماجی مسائل اور موجودہ حقیقت پر زیادہ زور دیتا ہے"(۵).

د نړۍ په مخ چې څومره تحریکونه او انقلابونه راغلي نو د انساني ژوند سره سره په ادبیاتو هم د هغې اثرات پرېوځي. د منثور او منظوم ادب هر یوصنف د دغه رجحاناتو نه متاثره کېږي. او بیا په تېره تېره په قیصه ایز ادب خو ئې د ټولو نه زیات اثر کېږي.

په پښتو ادبیاتو کښې د شلمې صدۍ د نورو ډېرو جدیدو اصنافو سره افسانه هم مخې ته راغلې ده. د افسانوي ژوند سره ادب داسې اوړه په اوړه روان دی چې په هر قدم د یو بل ترجماني کوي. ددې نوي صنف سره په شلمه صدۍ کښې د ډېرو نارینه لیکوالو سره سره زنانه لیکوالې هم مخې ته راغلې دي چې په کښې خدای بخښلې زیتون بانو د ټولو نه زیات ښکاره نوم دی. ښاغلی ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپل کتاب (پښتو افسانه تحقیق او تنقید) کښې د بانو بي

بي په حقله لیکي چې:

"په زنانه لیکوالو کښې مېرمن زېتون بنو د ټولو نه باشعوره او باقاعده لیکواله ده. بانو د پښتو افسانې په مېدان کښې ډېر لوئ کار کړی دی او د هغې افسانوي کار د نزدې نزدې شلو کالو په اوږده دوره باندې خور دی"(۶).

ښاغلی وړاندې لیکي:

"زېتون بانو سره د پښتو افسانې ډېر امېدونه تړلې دي او کېدی شي چې ستایلې مېرمن په راتلونکو کلونو کښې د خپل ښېرازه تخیل، ژورې مطالعې او فني زده کړې په رڼا کښې د افسانې لمن ته بې بها فنپارې وراوبخښي"(۷).

د زېتون بانو د دومره کار او زیار نه پس ښاغلی ګل افضل خان هم غلی نۀ دی پاتې شوی. دوئ د زېتون بانو بي بي پحقله لیکي چې:

"د پښتونخوا په خوئیندو مئیندو کښې خو لیکوالې هسې یو څو د ګوتو په شمېر دي ولې د افسانې په دنیا کښې داسې ښکاري لکه چې زېتون بانو یوازې وي د هغې دوه مجموعې هنداره او مات بنګړي چاپ شوې دي. دې کښې ځېنې ابتدایي افسانې هم شامل کړې شوې دي ځکه ځینې افسانې د فن نه بېخي لرې او ځینې فن ته ډېرې نزدې دي زېتون بانو په هر قسمه موضوع باندې لیکل کړې دي خو زیات مرکزي خیالونه ئې د کورني ماحول نه اوچتېږي"(۸).

زېتون بانو بي بي ډېر په کم عمرۍ د پښتو ادب غېږې ته داسې بخښنې کړې دي چې د ادب جولۍ پرې درنه شوې ده. ښاغلی اسیر منګل په خپل کتاب، د پښتو افسانې سل کلن بهیر کښې د بانو بي بي د زړۀ چاودي کار او زیار ستائینه د خپل قلم په څوکه داسې بیانوي:

" زېتون بانو د افسانې یو لوئ نوم دی، د افسانې پورته

هغه یوه لویه شاعره ډرامه نګاره او کامیابه صدا کاره هم ده، ولې ددې د شهرت اصلي وجه افسانه ده. د زېتون بانو بي بي یو ځانګړتیا دا هم ده چې د دویم دور د پښتو د قیصه ایز ادب وړومبۍ ښځینه لیکواله ده چې وړومبی کتاب، هنداره ئې په کال **۱۹۵۵**ء کښې مخې ته راغلی دی. نو لازمه خبره ده چې دې بي بي ډېر په کم عمرۍ کښې افساني لیکلې دي او دا مونږ د کال **۱۹۵۳**ء نه فرض کولی شوچې هغه وخت به ددې عمر پینځلس کاله وو او ددې نه دا جوتېږي چې د افسانه نګارۍ یوه علمي او فرهنګي کورنۍ وه"(۹).

ښاغلی وړاندې لیکي چې:

"د زېتون بانو تر اوسه د لنډو قیصوشپږ مجموعې یعنې هنداره پېښور **۱۹۵۵**ء، مات بنګړي پېښور **۱۹۵۸**ء، ژوندي غمونه پېښور **۱۹۸۵**، خوبونه پېښور **۱۹۸۲**ء، نیازوړی پېښور **۱۹۸۹**ء او په کال **۲۰۱۵**ء کښې ئې د افسانو کلیات د شګو مزل چاپ دی. په دې کښې د زړو شپږو کتابونو نه علاوه نوې افسانې هم شاملې دي. بانو بي بي په خپلو افسانو کښې د ښځو ستونزې په ډاګه کړې دي او د ژورې مشاهدې او فراخه مطالعې څرګندونه کوي. محترمه په دې پوهېږي چې د ژوند ترخو حقیقتونو له څنګه د قیصې بڼه ورکړي"(۱۰).

ښاغلی خاطر غزنوي د "ژوندي غمونه" په شاپاڼه د بانو بي بي د افسانو په حقله لیکي چې:

"د بانو قیصې داسې نهٔ دي چې د وخت په لوړو ژورو کښې به ورکې شي. د انساني جذباتو او کېفیاتو په رنګ کښې رنګ ددې افسانې مختلف رنګونه لري"(۱۱).

د زېتون بي بي د ادبي ژوند ستائینه همېش خلیل صېب هم پخپل کتاب

پښتانهٔ لیکوال کښې کوي. ښاغلی لیکي چي:

" بانو بي بي په کال ۱۹۶۸ کښې د پېښور ریډیو سټېشن په محکمه کښې د پروډیوسرۍ په عهده د خپل ملازمت ابتداء وکړه دلته د څهٔ مودې ملازمت کولو نه پس ئې په کانونټ سکول پېښور او بیا پشاور پبلک سکول اینډ کالج کښې د معلمۍ په حېث خدمات تر سره کړل. زېتون بانو د یوې منلې شوې افسانه نګارۍ نه علاوه یوه ښهٔ شاعره، ناول نګاره او ډرامه نګاره هم ده، صداکاره هم ده او فنکاره هم"(۱۲).

د انسان ژوند یوه قیصه ده او په دې قیصه کښې هره پېښه، واقعه او حادثه داسې اړخونه دي چي هره لمحه نوې نوې قیصې پېدا کوي.

څنګه ادب چي د افسانوي ژوند سره اوږه په اوږه روان دی او په هر قدم ئې ترجماني کوي نو دغسې افسانه هم د انساني ژوند د مختلفو پېښو، واقعاتو او حقایقو نه پرده پورته کوي.

په شلمه صدۍ کښې د زنانه لیکوالې په حېث خدای بخښلې زېتون بانو بي بي د پښتو افسانې د ترقۍ په مېدان کښې قابل قدر کار او زیار کړی دی. د زېتون بانو بي بي یو شمېر افسانې چاپ دي او بیا دغه ټولې مجموعې "د شګو مزل" په نوم د کلیات پا شکل کښې شائع شوې ده. ولې په دې مقاله کښې د شګو مزل یوه برخه چي د "خوبونه" په نوم نومېږي کښې د حقیقت نګارۍ څېړنه کولې شي. په خوبونه مجموعه کښې ټولې شپاړس افسانې دي چي په هره یوه کښې په خپل خپل انداز کښې د حقیقت نګارۍ تصویر وړاندې شوی دی. اوس به دلته د زېتون بانو د کتاب "خوبونه" په افسانو کښې په حقیقت نګارۍ تبصره وړاندې کړو.

## ۱. ګوټ پېر

په ګوټ پېر افسانه کښې د ژوندیو داسې حقیقت ته اشاره شوې ده چي په معاشره کښې کله بچي لوی شي نو د مور او هغه قدر، مذهب عزت او احترام چي ورته د مذهب او معاشرې له خوا پکار وي ونهٔ کړي.

په دې افسانه کښې هم دغسې د یوې کونډې مور د ژوند حالات بیان

شوي دي هغه په ډېر تکلیف خپل بچي لوی کړي . ولې د هغې د پاره د عمر په هغه حصه کښې چې د یوې سهارې ورته سخت ضرورت وي او پکار وي چې د هغې خدمت وکړی شي او د ژوند سهولیات ورته ورکړی شي خو هغه بې یاره مددګاره پاتې شي. زېتون بانو په دې افسانه کښې د حقیقت نه ډکه یوه خبره په دې ډول کړې ده:

"نۀ یمه پوهه چې زمونږ نه دا ضعیف مئیندې پلاران او نیا نیکونه دومره زر ولې هېر شي؟ دا شائد په دې وجه چې مونږ به ټول عمر ځوانان یو او چرې به هم نۀ زړېږو"(۱۳).

دلته زېتون بانو بي بي د معاشرې یو تریخ حقیقت په ګوته کړی دی.

## ۲. فنکاره

فنکاره نومې افسانه په ځینې حوالو حقیقت ته نژدې ده او هغه داسې چې په معاشره کښې دهوکه، فرېب، دروغ او چالاکي ډېر عام دي. ولې په دې افسانه کښې چې کوم کردار رامخې ته شوی دی دغه ډېر کم په نظر راځي چې ثمرۍ نومې یوه کېنه ښځه په برقعه کښې پټ مخ عدالت ته ځي او خلقو له په کرایه په کاغذونو باندې د خوئیندو، لوڼو او ښځو په نوم ګوته لګوي.
ولې دا افسانه په جدید سائینسي بنیادونو د حقیقت نه لرې ده ځکه چې اوس د سائینس او ټیکنالوجي زمانه ده، بائیو مېټرک سسټم دی، کمپیوټرائیز نظام دی، د نادره شناختي کارډ نمبر داخلېدل او د متعلقه فرد ټوله ډېټا مخې ته راځي.

## ۳. پېټی

په دې افسانه کښې مونږ ته دا حقیقت څرګندېږي چې هر انسان محنت وکړي. او دا نۀ چې د خپل غربت علاج د محنت په ځای په سوال ګدا او د خلقو نه په غوښتلو باندې اوکړي. ځکه چې الله تعالی ټول انسان یو شان پېدا کړي دي، عقل ذهن او شعور ئې ورله ورکړی دی. لکه په دې افسانه کښې چې د سکول استاذه یو مشر کمزوري بوډا بابا ته خېرات ورکوي نو هغه ترېنه انکار وکړي او وائي:

" لورې الله پاک دې ستا عزت وساتي دا پېسې به بل چا حاجتمند ته ورکړې. زۀ په سترګو معذور یم خو په لاسونو روغ یم او په ښار کښې د یو کاریګر سره کټونه کرسۍ ښم ښۀ ګذاره مو پرې کېږي"(۱۴).

پکار ده چې په دې حقیقت انسان سوچ وکړي نو د سوال غوندې یو کمزوري عمل نه به نۀ تېرېږي. بلکې د انسان د پاره چې الله تعالی د جلال کوم خاصیت غوره کړی دی نو په دغې به قائم پاتې شي. لکه چې خوشحال بابا وائي:

د منت دارو که مرم پکار مې نۀ دي
کۀ علاج لره مې راشي مسیحا هم"(۱۵)

## ۴. میړانه

میړانه افسانه هم د زېتون بانو د حقیقت نګارۍ عکاسي کوي ځکه چې په دې وطن کښې کله د پیرنګیانو خلاف جنګ شروع وو نو چا هم مال او ځانته نۀ دي کتلي او نۀ ئې د څۀ قسم قربانۍ نه ډډه کړې ده بلکې مالونه جائیدادونه او سرونه ئې قربان کړې دي خو د پیرنګي خلاف ئې د ازادۍ جنګ جاري ساتلی وو. لکه چې په دې افسانه کښې زېتون بانو د یوې پښتنې مور داسې الفاظ لیکلې دي:

" درې ځامن مې شهیدان شول خو یو لااوس هم پاتې دی او د هغۀ نوم به هله اخلم چې د رونو بدل واخلي او د انګرېزانو نه خپل وطن ازاد کړي "(۱۶).

په دې افسانه کښې هغه خلقو د حقیقي جذبې پله اشاره شوې ده چې د غلامۍ نه ئې کرکه کوله د خپل وطن د ازادۍ د پاره ئې بې شمېره قربانۍ ورکولې. او د خپلو سرونو سره سره د بچو قربانولو نه هم نۀ دي روستو شوي.

## ۵. الوت

د زېتون بانو بي بي الوت نومې افسانه هم د حقیقت نګارۍ یوه ښۀ نمونه ده. لکه څنګه چې الله پاک په قرآن کښې وئیلي دي چې زۀ د هغه قوم حالات هېڅ کله هم نۀ بدلوم کوم قوم چې خپل حالات پخپل نۀ بدلوي. او دا قول هم مشهور دی

چي "همتِ مردان مددِ خدا" نو ددې نه دا خبره ثابتېږي چي په نړۍ کښې هغه اولسونه اَو افراد کامیَابېږي کوم چي د محنت له غاړه ورکوي. ځکه خو په دې افسانه کښې هم زمان نومې ځوان د سخت محنت کولو نه پس د یو ډاکټر په شکل کښې د پسمانده علاقو د خلقو د خدمت موقع تر لاسه کړي. لکه چي هغه یوه ورځ خپل دوست ته هم د مور د خلې الفاظ اووائي:

" زۀ ډېر ماشوم وم چي زمونږ کور ته یوه ورځ په سترګو ړنده مرغۍ راپرېوته ما مور ته ویل موري! ددې مرغۍ څۀ علاج نۀ کېږي؟ نو مور مي وویل چي ځویه ! که دلته علاجونه کېدی شوی نو پلار به دې ولې تۀ زما په غېږ کښې یتیم پرېښودې"(۱۷).

کۀ مونږ وګورو نو دا یو منلی شوی حقیقت دی چي همېشه هغه خلق د ترقۍ په بام ختلي دي چا چي محنت کړی وي نو ځکه ددې افسانې کردار زمان ډاکټر جوړ شي او د اولس خدمت کوي. دا هم یو حقیقت دی چي کله کله د یو انسان محنت کول د خپل عصر، چاپېرچل، خاندان، قبیلې او کله کله د زمانو زمانو پورې د ټول انسانیت د پاره مفید وي، لکه د مثال په توګه چي جهاز چا جوړ کړی دی او نن د نړۍ ټول هېوادونه د هغې نه فائده اخلي. ددې نه علاوه د مختلفو بیمارو دوایانې، ویکسین او داسې نور په دنیا کښې نن د ترقۍ ټول آلات د انسان د محنت د وجې نه زمونږ په وړاندې دي.

## ۶. کونتره

کونتره افسانه د زېتون بانو داسې افسانه ده چي زمونږ یوې معاشرتي خرابۍ ته ئې اشاره کړې ده او د حقیقت نه ئې پرده پورته کړې ده. اکثر په کلو کښې خلق ډېر شوقونه لري چي یو په کښې د کونترو ساتلو هم وي. ولې د بدقسمتۍ نه زمونږ په معاشره کښې پښتانۀ د کونترو په سر ډېر جنګونه کوي او داسې یوه واقعه په دې افسانه کښې هم بیان شوې ده چي د کونترو د جنګ په ترس کښې مظفر د شفیق ماشومه خور مړه کړي.

ولې دا هم یو حقیقت دی چي د داسې وارداتو او بې ګناه مرګونو په شا نفسیاتي مسئلې هم پېدا کېږي لکه چي په دې افسانه کښې مظفر نفسیاتي

مریض شي، هر وخت ورته دغه داسې بې ګناه ماشومې قتل یادېږي او دی د یو لوی اذیت سره مخ وي. هغه په دې سوچ کښې بوخت اوسي چې هسې نه اوس زما د ماشومې لور سر ه داسې زیاتی اوشي ځکه ترېنه خپله ښځه وره د څو میاشتو لور هم پټه ساتي. چې مظفر ته په کښې د شفیق خور زېبا ښکاري او څو څو وارې ئې پرې حمله هم کړې وي.

## ۷. منزل

منزل افسانه هم د حقیقت نګارۍ یوه نمونه ده. چې په ځینو کورونو کښې بچي د مور پلار په ضعیف العمرۍ کښې د هغوئ خیال و نهٔ ساتي او مور پلار ډېر د بې وسۍ ژوند تېروي. په دې افسانه کښې ادې جان هم د یوې داسې مور کردار دی چې د بې وسۍ ژوند تېروي او تر دې چې هم په دغه بې وسۍ کښې د ژوند نه لاس ووینځي. د درد نه ډک د معاشرې یو حقیقت چې ځامن د وادهٔ نه پس خپل بال ځان سره بوځي او د مور پلار دا حال وي:

> " ادې جان لوښو وینځلو ته ناسته وه تبه ئې زیاتېدله او ورسره د تېر ژوند خیالونه هم. په دې کښې د لوښو یو کړنګ شو بابا چې باورچي خانې ته وکتل نو ادې جان په زمکه یو اړخ ته پرته وه او ګېر چاپېره مات ګوډ لوښي وو"(۱۸).

دا د معاشرې د ټولو وګړو په مخ داسې څپېړه ده چې د حقیقت نه ئې سترګې نهٔ شي پټېدی ځکه چې زمونږ په اکثرو کورنو کښې هم داسې واقعات او پېښې مخې ته راغلې دي.

## ۸. خاورې

الله پاک چې انسان پېدا کړی دی نو جسماني طور په کښې چرته نیمګړتیا وي او یا د بل انسان نه مختلف وي. څنګه چې رنګ، شکل، قد قامت او خوئي مزاج د یو بل نه بدل وي نو دغسې دا هم یو حقیقت دی چې عام طور د اکثرو خلقو اولاد نهٔ وي ولې دا هم حقیقت دی چې دغه کمی په نارینه یا زنانه دواړو کښې کېدی شي خو دا د الله پاک د طرف نه وي چې یو انسان د دغه نعمت نه محرومه وي. ولې انسان له ددې نه د انا مسئله جوړول نهٔ دي پکار ځکه چې یو کار د خدای په لاس کښې وي نو بیا د معاشرې خلقو له دغه ښځه یا سړی ګناهګار او

قصوروارول نۀ دي پکار. ولې دې حقیقت ته رسېدل د یوې پوهه معاشرې په بنیاد کېدی شي یعنې هر انسان له دا سوچ پکار دی چي یو انسان هم په دنیا کښې مکمل نشته.

د زېتون بانو دا افسانه هم په دغه موضوع لیکلې شوې ده چي د شپاګۍ اولاد نۀ کېږي او چي کله هغه خپل خاوند زرګل ته د پوخ کور ارمان ظاهر کړي نو هغه ورته دا شرط کښېږدي چي تۀ کله ماله د اولاد خوشحالي راکړې نو زۀ به درله د د خښتو پوخ کور جوړ کړم. او بیا هغه څۀ وشي چي چي د زرګلي په سوچ کښې هم نۀ وو:

"د وادۀ په یولسم دولسم کال زرګلي د ځوي پلار خو شي خو د شپاګۍ د سر په قیمت. او شپاګۍ ددې دنیا نه د نوي کور په ارمان رخصت شوه"(۱۹).

د شپاګۍ د مرګ نه پس بیا زرګلي پخپلو کړو ډېر پښېمانه وي او د کور په ځای د هغې قبر پوخ کړي خو د حقیقت معلومولو د پاره دا زحمت چرته هم و نۀ کړي چي دغه کمی د شپاګۍ وو او که د زرګلي.

## ۹. ګونګۍ

ګونګۍ نومې افسانه د حقیقت نګارۍ یوه خوندوره نمونه ده. زمونږ په معاشره کښې ځینې داسې کردارونه وي چي اخلاقي طور ډېر ټیټ او لاندې وي. هر څو که د معاشرې په نظر کښې د دغه کردار د خپل مال او دولت په وجه ډېر قدر او عزت کېږي ولې په دې د دغه کردار معیار هېڅ کله هم نۀ اوچتېږي. دغسې دوه کردارونه په دې افسانه کښې هم دي یو کردار د داسې ګونګۍ دی چي هغه په خلۀ خبرې نۀ شي کولی ولې بیا هم د ژوند داسې ژوندی کردار دی چي د هر چاسره په ډکه خلۀ او خندا خوشحالۍ جوړ تازه کوي. او بل اړخ ته په ډېرو کالو او قیمتي جامو کښې سنبال شوی بل داسې کردار دی چي وچ په وچه او بې معنې ئې د خاموشۍ روژه نیولې وي. او دغه وخت یوه ښځه د مرحمې انۍ نه داسې تپوس وکړي:

"مرحمې انۍ! د دغه ښځې پحقله مې درنه تپوس کړی وو چي دا څوک ده خو ددې ګونګۍ خور سره په خبرو شومه نو دغه په ځای پاتې شوه. هغه جواب ورکړي چي

دغه بت یادوې دغـه چـي بوټـه ناسـته ده سـمه فرعونـه ده
چاسره سلام کلان نهٔ کوي خپل ښائست او مـال دولت ته
غـاوره ده"(۲۰).

دلته لیکواله ددې افسانې په پېرایه کښې لوستونکو ته دا خبره مخې ته ږدي چي پخپله دې دا فېصله وکړي چي په حقیقت کښې ګونګی کردار کوم یو دی.

## ۱۰. ګنګڼي

د زېتون بانو بي بي دا افسانه تر ډېره حده پورې د حقیقت نګارۍ نمونه وړاندې کوي چي د غیور د خپلې ښځې سلطانۍ په ځای یوه زرین نومې جینۍ خوښه وي هغې سره دخطونو په ذریعه رابطي ساتي خو د هغې د ګټلو د پاره بې انتها دولت پکارر وي. غیور د هغې د پاره خپله ښځه پرېږدي ولې د پرېښودو سره د سلطانۍ داسې ورکېدل چي غیور ئې د مرګ خبر ګډ کړي خو نوره د هغې متعلق خاموشي وي. بل طرف ته د غیور خینه شها چي د مراد سره مینه کوي غیور ته په دې غرض وادهٔ کړې شي چي د ددهٔ د دوو بچو خیال اوساتي. ولې د خطونو په دغه سلسله کښې یو خط د شها په لاس هم ورشي چي په لوستو ئې د هغې دنیا په زلزل شي او هغه داسې چي:

"دا ځل خط د شـهـا د خـور سـلطانۍ وو. هغـې لیکلـي وو
چـي زهٔ اوس پـخپلـو پښـو د اودرېـدو جوګـه شـوې یـم او
خاندان ته دې زما د مرګ خبر هم هغسـې تـازه اوسـاتلی
شي ځکه چي سلطانه کـه پـه دنیـا ژوندۍ ده خـو د مـور،
خور او بچو د پاره مړه ده"(۲۰).

خو ددې نه پس د زرین له طرف نه دهٔ ته مسلسل خطونه راتلل څهٔ معنه نهٔ لري البته سائنسي طور دا خبره صحیح ده چي د نارنج په اوبو لیکلی خط د اور په تپ راښکاره کېږي.

## ۱۱. خوبونه

خوبونه افسانه د حقیقت نګارۍ یوه داسې نمونه ده چي زمونږ د معاشرې

د هغه نفسیاتي رنځ تشخیص په کښې شوی دی کوم کښې چې د نن وخت هر انسان لاعلاجه پروت دی او هغه د دولت حرص، لالچ او خودغرضي دي چې مونږ ئې د رشتو د تقدس نه واخله د خپلو فرائضو ادا کولو پورې خطا کړي یو. مونږ ته دولت د هغه مرض علاج ښکاري چې کوم مرض په دغه حرص کښې ناسور ته رسي. ددې باوجود چې په دې یویشتمه صدۍ کښې نزدې نزدې ټوله معاشره په دې خبره پوهه ده چې د انساني سکون د پاره د انسانانو ترمینځه د مینې محبت او هم آهنګۍ ضرورت وي نۀ چۀ د ډېرو پېسو او دولت. په دې افسانه کښې هم دغه حقیقت ته اشاره شوې ده چې شمادۍ خپلله ملګرې په مینو په دې خبره مجبوره کړي چې لکه دهغې د خاوند دې د مینو خاوند هم د رشوت او بدعنوانۍ په لاره روان شي. او چې د دواړو خاوندان چې په دغه جرم کښې ګرفتار شي نو مینو خپل دماغي توازن اوبائیلي او شمادۍ روغه پاتې شي. ددې مطلب دا دی چې په دغه ګناه کښې یواځې د شمادۍ خاوند نۀ وو ککړ بلکې شمادۍ هم اخلاقي طور په دګه بدعنوانۍ کښې ککړه وه.

## ۱۲. موټې

په دې افسانه کښې زېتون بانو د ژوند یو داسې حقیقت د افسانې په کېنوس د لفظونو داسې انځورګري کړې ده چې مونږ ته په کښې د ماشوم نادري د ژوند په هره ادا کښې د اولس د غربت حقیقتونه راښائي او دغه د حقیقت نګارۍ په حواله د زېتون بانو لویه کامیابي ده چې ددې افسانې په هره جمله کښې ئې د حقیقتونو عکاسي کړې ده.

نادرۍ چې ورکوټې ماشوم دی او د لو نه ځانله په موټو کښې غنم راوړي او په دغه ورزو کښې دا ماشوم د ګرمۍ تاؤ او نمر اووهي نو په کټ پریوځي او چې کله ددۀ په موټو کښې راوړلې شوي غنم په زمکه یوه چرګه ټکوي نو دی مور او خوئېندو ته وائي چې چرګه مۀ منعې کوئ ماته سبا د پاره چا د لو وئیلې دي نور غنم به راوړم.

> "د نادري د خبرو په اورېدو ئې د مور او خوئېندو په سترګو کښې اوښکې راغلې خو خدای خبر چې دا اوښکې د نادري د ښۀ کېدو د خوشحالۍ وې او که د لوږې د وږلو د یوې اسرې"(۲۱).

د خبره د انسان انسانیت په ګوته کوي کوم چې یو حقیقت دی او په بنیادي توګه انسان د مثبت سوچ او فکر خاوند وي. ولې د بدقسمتۍ نه د دنیا حرص، لالچ، خودغرضي او نور داسې قسم خویونه او روئي د انسانانو په فطرت او یا فطري ساخت کښې بدلون راوستی شي.

۱۳. **رڼا**

زېتون بانو چې یوه زنانه لیکواله ده او د هغې په افسانو کښې د ښځینه احساساتو ترجماني په پرېمانه توګه شوې ده. په دې افسانه کښې هم چې مقبوله د پلار په کور مروره ناسته ده او د کور خلق ئې په دې وجه د خاوند کره نۀ پرېږدي چې د مقبولې نه د وادۀ په دوېمه میاشت کالي خرڅ شوې وي او ورته وائي چې دغه کالي به جوړوئ. بل طرف ته د مقبولې د خاوند کور نه جرګې کېدې او یوه ورځ هم دغسې په یوه جرګه کښې مقبوله پخپله جرګې ته حاضره شي او وائي چې:

"زۀ تاسو سره خپل کور ته ځم. او ددې وېنا سره سمه هغه کوټې ته روانه شوه برقعه ئې راواخسته او د هغې د خوابښې او نورو راغلو مشرانو په زیړو ګونو لکه د سرو زرو د پړق یوه رڼا خوره شي"(۲۲).

په دې افسانه کښې ډېر حقیقتونه داسې دي چې هغه لیکوالې محفوظ کړې دي. د مقبولې نه کالي خرڅول چې عام طور په معاشره کښې کېږي خو که دا بغېر د څۀ ضرورت نه وي نو بیا ښۀ خبره نۀ ده. ولې که دغه کار د ضرورت تحت شوی وي نو دا هم زمونږ د معاشرې یو حقیقت دی چې د جینۍ د پلارګنۍ خلق بې ځایه مداخلت کولو سره د خپلې خور و لور ژوند د لوی تکلیف سره مخ کړي. د مقبولې پلارګنۍ هم داسې اوکړل چې هغه ئې په کور کښېنوله. هغوئ نۀ د مقبولې د سخرګنۍ ضرورت او مجبورۍ ته اوکتل او نۀ ئې د هغې ځوانۍ ته. خپله بې ځایه ضد او انا ئې مخې ته اودرول او د هغې په نتیجه کښې د ټولې جرګې په وړاندې کوز سترګي او ملامته پاتې شول.

دا هم یو حقیقت دی چې که څوک داسې بې ځایه انا مخې ته اودروي نو انجام ئې هم دغه وي چې په اخر کښې بیا ټیټې سترګې ولاړ وي . د بانو بي بي په دې افسانه کښې د حقیقت نګارۍ بهترینې نمونې مخې ته راځي چې زمونږ د معاشرې ناولي عکسونه، کردارونه او بې جوړه روئې زمونږ په وړاندې ږدي. ددې

د پاره چې معاشرتي اصلاح اوشي او په داسې رويو د جينکو ژوند تباه نهٔ کړی شي.

## ۱۴. شپول

"شپول" افسانه زمونږ د ژوند داسې عکاسي کوي چې حقيقت ته ډېره نزدې ده او هغه داسې چې که اوکتلی شي نو زمونږ د پښتنو معاشره د سيالۍ په يو بد رسم کښې اخته ده چې عام چور دغه رسمونه رواجونه او سيالۍ مونږ د ډېرو ستونزو سره مخ کوي، د مالي مسائلو سره مو مخ کوي او په خپل چاپېرچل کښې مو معاشي طور هم کمزوري کوي. داسې دغه حقيقت په دې افسانه کښې د منهمرې په کردار کښې بيان شوی دی هغه د رسمونو رواجونو په سيالۍ کښې داسې نقصان اوکړې چې د خپل کور نه په کښې هم لاس اووينځي او هغه داسې چې:

> "منهمرې د تربورانو د قصده د ځامنو ودونه ښهٔ په درز دروز کول. بيا د ځامنو د بچو په سرکلو په شکرونو روپۍ والوتې د خوراک خلې ورځ په ورځ زياتېدې قرض خوا ته به پتهې نيم ليکلی کېدو او زمکه په مزه مزه تنګېدله"(۲۳).

بيا خبره داسې حد ته اورسېده چې منهمره خپل کور هم چا سره ګانه کړي او اخر دا چې کور چاته په قرض کښې پرېږدي او پخپله د کلي نه بهر يوه خېمه اولګوي. په حقيقي توګه هم داسې کېږي که چرې ځوک د خپل څادر سره پښې نهٔ غزوي خپل رسمونه رواجونه د سيالۍ په زور کښې کوي نو بيا به د ژوند يو داسې پړاؤ ته رسي چې تش لاس پاتې شي.

## ۱۵. يو پوټې چيټ

زمونږه معاشره چې د بې شمېره ستونزو سره هر وخت مخامخ ولاړه وي. په دغه ستونزو کښې يوه عام ستونزه د پولې پټي او جائيداد هم ده. او بيا چې کله دغه جائيداد شريک وي نو په هغې د مرګ ژوبلې واقعات او فسادات مخې ته ډېر راځي. دغسې په دې افسانه کښې زمان نومې ځوان خپل ترهٔ د غلط فهمۍ په وجه بې ګناه مړ کړي. د هغهٔ دا سوچ وي چې ګني زما جائيداد د پلار د مرګ نه پس

دۀ نیولی دی. ولې په حقیقت کښې داسې نۀ وي او هغه داسې چې کله زمان د خپل ترۀ صادق شاه د قتل نه پس مفرور شي نو ډېره موده پس د خپل کلي د یو کس سره اتفاقي ملاقات اوشي او هغه ئې د اصل حقیقت نه داسې خبر کړي چې:

> "ستا ترۀ صادق شاه د پلار نیکۀ د پاتې میراثې نه ستا د پلار برخه پخپل ژووندانۀ ستا په نامه کړې وه او د کوز کلي دهقان ته ئې حواله کړې وه. او دغه وخت زمان په خپلو کړو سخت پښېمانه او ملامته وي"(۲۴).

په افسانه کښې هم زمونږ د انسانانو د خودغرضۍ، حرص، لالچ او ددې سره سره د نور جهالت حقیقت په ګوته شوی دی. یوائې زمان نۀ بلکې په دې چاپېرچل کښې ډېر داسې کردارونه موجود دي چې د خپل هوس، غرض او مطلب د پاره د بل انسان ژوند په تکلیف کړي. کله کله خو دا انسان ددې ټپې په مصداق شي چې:

پردي مې سل ارمانه لوټ کړل
پوره مې نۀ کړل خپل نیمګړي ارمانونه

نو دغسې نور چاته زیان رسول کله هم د خپلې فائدې نۀ وي او که اتفاقي داسې اوشي هم نو دغه فائدې تل عمري نۀ وي بلکې یوه ورځ ئې زوال راځي چې بیا انسان پخپلو پښېمانه وي ولې بیا اوبۀ د ورخه تېرې وي.

## ۱۶. د اوسپنې چڼې

دا افسانه چې د زیتون بانو بي بي د افسانوي مجموعې "خوبونه: اخري افسانه ده نوم ئې د روزمرې مطابق سم نۀ دی لیکلی شوی. محاوره د "اوسپنې نینې چیچل" دي ولې د حقیت نګارۍ په کښې خوندوره اوبهترینه نمونه وړاندې شوې ده.

په دې افسانه کښې بختیار یو داسې ماشوم دی چې د غربت ژوندی تصویر دی داسې تصویر چې ساه هم اخلي او خبرې هم کوي خو دې طبقاتي نظام ورته ډېر په ماشوموالي د طبقاتي نظام جنګ د بخت په نوم حواله کړی دی او دغه ماشوم هم د ښېرازه ژوند په تکل پخپل معصومیت پښې ابلې پښې دغه سفر روان ساتي. او چې کله په سره غرمه کښې د یو کور کره په کباړ پسې ورننوځي نو مریم

نومې زړۀ سواندې ښځه ورله د کباړ ورکولو نه مخکښې ښۀ یخ شربت او بیا ډوډۍ تیاره کړي. او چې کله د بختیار نه د کباړ د پېسو خرچ کول معلومو نو هغه ورته په وړه خلۀ داسې ګویا شي:

" دا کباړ چې خرڅ کړم نو په هغه پېسو به مور او ورور
ډاکټر له بوځم او ځانله به پرې د اختر د پاره څپلۍ اخلم.
مریم حقه حېران ودرېږي او سوچ کوي چې د بختیار
بخت په کوم تاخ کښې ولټوي"(۲۵).

هر څو که مریم ددې ماشوم سره د خپلې همدردۍ او مینې اظهار کوي او ددۀ د مدد کولو تابعه کوي خو نظام ختمول د یوې مریم کار نۀ دی بلکې دا د یوې مبارزې او جدوجهد په نتیجه کښې کېدی شي.

زېتون بانو ددې معاشرې داسې حقیقت مونږ ته په ګوته کړی دی چې دا معاشره چې تر څو پورې غېر مساوي روئې لري نو هر بختیار به د خپل بخت تکل د طبقاتي نظام د لاسه په لارو کوڅو کښې روژه په خلۀ کباړ غونډوي. او د سوکالۍ زېرى به هېچرې هم وانۀ وري.

د زېتون بانو ددې افسانو په رڼا کښې او د حقیقت نګارۍ د پوهانو د وېنا مطابق په دې نتیجه رسو چې د ژوند پېښې او واقعات پلټل کتل او څېړل په ادبیاتو کښې د یو بېن الاقوامي رجحان په توګه د ډېر وخت نه راروان دی. مطلب دا چې حقیقت نګاري د لیکوالو یو ارادتًا کاوش وي او غواړي چې د ژوند حقیقتونه په صحیح معنو کښې او په پوره توګه مشاهده کړي او اولس ته ئې وړاندې کړي.

د زېتون بانو دا افسانوي مجموعه "خوبونه" چې شپاړس افسانې په کښې راځای شوې دي د ژوند داسې حقیقتونه دي چې لمحه په لمحه زمونږ په وړاندې دي. اګرچې ځینې ځای کښې د لیکوالې نه د افسانوي ضرورتونو او فني تقاضو په وجه به مبالغه شوې وي. ولې دا خبره څرګنده دا چې د حقیقت نګارۍ د تعریفونو په رڼا کښې دا ټولې افسانې ښۀ په تول پوره دي.

# حوالې

(۱) محمد اسحاق مومند ، پښتو ادب او رومانيت، کتاب کور خپرندويه ټولنه پېښور، ۲۰۲۵ء، مخ ۲

(۲) The New Encyclopedia Britannica (Vol. ۱۵), University of Chicago, USA, ۱۹۹۷, pg.۵۳۹

(۳) David lodge, ۲۰th Century Criticism, Longman House London, ۱۹۷۲, p.۵۸۱

(۴) پوهنيار ګل رحمان رحماني، د نړۍ ادبيات، سمون خپرندويه ټولنه کوټه، ۱۳۹۹ ، مخ ۵۵

(۵) ابوالاعجاز حفیظ صدیقی، کشافِ تنقیدی اصطلاحات، ادارہ فروغِ قومی زبان وزارتِ اطلاعات و نشریات اسلام آباد،۲۰۱۸ء،(طبع:دوم)،ص۱۰۱

(۶) ډاکټر محمد اعظم اعظم، پښتو افسانه تحقيق او تنقيد ، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور ، دسمبر ۲۰۲۱ء، مخ ۱۱۷

(۷) ايضاً، مخ ۱۲۰

(۸) ګل افضل خان، د افسانو افسانه . ادب محل ستې ټاور کابلۍ بازار پېښور، ۲۰۲۲ء(دوېم چاپ)، مخ ۱۱

(۹) اسير منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهير، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، دسمبر ۲۰۲۱ء (دوېم چاپ)، مخ ۱۱۳

(۱۰)ايضاً

(۱۱) زيتون بانو، ژوندي غمونه . آذر تاج سعيد مکتبهٔ ارژنګ ظهير آباد پېښور، ۱۹۷۹ء، شاپانه

(۱۲) همېش خليل، پښتانهٔ ليکوال (دوېم ټوک)، يونيورسټي پبلشرز افغان مارکيټ پېښور، ۲۰۱۱ء (وړومبی اشاعت)، مخ ۱۲۲

(۱۳) زيتون بانو، خوبونه، مکتبه ارژنګ پېښور، ۱۹۸۶ء، مخ ۱۸

(۱۴)ايضاً، مخ ۴۰

(۱۵) خوشحال خان خټک، ارمغانِ خوشحال (مقدمه سيد رسول رسا)،

یونیورستي بک اېجنسي پېښور، کال نهٔ لري، مخ ۷۱
(۱۶) خوبونه، مخ ۴۵
(۱۷)ایضاً، مخ ۶۱
(۱۸)ایضاً، مخ ۸۸
(۱۹)ایضاً، مخ ۱۰۰
(۲۰)ایضاً، مخ ۱۱۰
(۲۱)ایضاً، مخ ۱۲۴
(۲۲)ایضاً، مخ ۱۴۸
(۲۳)ایضاً، مخ ۱۵۹
(۲۴)ایضاً، مخ ۱۶۵
(۲۵)ایضاً، مخ ۱۸۳
(۲۶)ایضاً، مخ ۱۹۸